**لیکونکی :**پیپ اسکوبا ر (Pepe Escobar).

**منبع او دخپریدو نیټه :** کونټرپانچ «2020-05-02»

**ژباړونکی :** پوهند وی دوکتور سید حسام «مل»

------------------------[52]--------------------------------------

# د چینا یی شیطا نت ژوري ریښی

## The deeper roots of Chinese Demonization

هیګل ولیدل چی تاریخ له ختیځ څخه ولویدیځ لوری ته حرکت کوی نو اروپا په بشپړ ډول دتاریخ پای ، آسیا په پیل کي

**Hegel saw history moving east to west – 'Europe thus absolutely being the end of history, Asia the beginning'**



مانیول کانت دژیر نژاد لمړني متفکر فیلسوف دي

***

پخپلو نا ستو چوکیو با ندي دځوکي کمربند پخپل ملا تینګ وتړي اوداځکه چي دمتحده ایالاتو ترکیبی جنګ جګړه د **چین** په وړاندي به له مجبوریته وي ، کوم چي دزیات زغم له حده څخه ووځی، اودا ځکه چي په اوسني حالت کي د **«کوبید نولس »** له امله اقتصادی راپورونه دآسیا د پیړي د پیل مهال اصلی

ټکی په واقیعت کی د(**ایروآسیا**) پیږي معرفی کوی .
دابلکل را څرګند دی چی د متحده ایالاتو استراتیژی په اصل کی پرنړی باندی دبشپړپراخ واکمنی واکمن کیدل دي چی دغه ستراتیژی بیا د امریکی دملی امنیت دستراتیژی سره مل دی کوم چی اوس د**چین** ، **روسیه** اود **ایران** د ګواښونو سره مخامخ شوی دي اوبیا په ځانګړي بڼه کوم چی **چین** د بشریت لپاره د «**ګډ برخه لیک ټولنه** »وړاند یزکوي چي ډیری یی نړیوال سویلي (جنوبی) ته خطاب کوي.
په اوسنی حا لت یا اوضاعو کي د متحده ایالاتو غا لب یا ستر بیان په اطلاعاتی جنګ جګړه کي پرکا نو باندي اینبودل شوی دی او هغه داچي د« **کوبید نولس**» د**چین** دازمایشی لابراتوار (biowarfare) دکار دافشا کید و ( تراوش =څڅونی) پایلی وه ،**چین** په دی مورد کی درواغ ویلی او**چین** باید ددی پیښی باج ورکړي
دنوی یا دعا دی تکتیک خپله کول بی د **چین** د شیطنت د توقف یا ددریدو څخه نه ترلاسه کیږی چی دا پخپله نه یواځی داومه تیلو د ما مورانود صنعتی نظا می نظا رتی څارنی اود رسني دپیچلی کچي کارکونکوپواسطه سره ځای پرځای شوي بلکه مونږ باید دغه مسله ډیر ژور وڅیړو چي دا چلند څنګه په ولویدیځ فکر او اند ییننو کي ژور ځای نیولي دي ؟ اوبیا وروسته د متحده ایالاتو له خوا« دتاریخ پای ته » را وګرځو کوم چي (د لته دعالی مطالعی برخه دختیځ دغیرفعال کیدو سره د توجیه کید و ترعنوان دآسیا سره د پوهاوی مقا له د **جورګن اوسترها مل** (Jurgen Osterhammel) لخوا با ید ولوستل شي) او هغه داچي د لته هغه ژوره اند ییننه داوه چي په دی له ګناهوډک یا دچینیا یی سازی(sinified) په نړۍ کي یو خورا سازما ن ورکړ شوی ټولنه کولی شي دغیر متروک یا دیو متعا ل دین په نشتوالي یا غیا بت کي هم فعالیت وکړي کوم چي دغه مسله حتی دهغو وحشیانو دموضوع څخه چي دوی په امریکا هغه وحشیان یی پیژند لی یا کشف کړي وه ډیره ځوروونکي وه

## یواځی سپین پوستو متمدن دي:

درنسا نس ها خوا یا لا د مخه اوږده لارپه (17) او (18) پیړی کي ، هرکله



چي اروپا ، آسیا ته مراجعه کول یا تلل نو په هغه وخت کي تجارت اساسٱ ددین سره په شرط بندی کي ترسره کیدل ،یعنی چي مسیحت عالی اوپیاوړي سلطنتی

مقام وه ، کوم چی دخدای په لیری کولو اویا دخداي په نه منلو سره ناممکن وه چي تجارت اوراکړی ورکړی تر سره شوي وای.

په ورته وخت کې دلته د کلیسا ډاکټران باید دنړی یو بل توضیحات سره مقابله وکړي ، او دې کار د پوهاوي په ساحه کې ځینې تخریبي او دیني ضد رجحا نا تو یا لمړیتوبونو ته وده ورکړه .

دادهغه مرحلی بل پړاودي چي اروپا یا نو په دي باندي پوه شو چي د چینیا یی فلسفی په اړه د پوښتنو په کولو پیل وکړي . چي په غیر له دی توګه دوی با ید دنړی « دعقل» حیثیت ته زیا ن ورسوی، ځکه چي دا د یونان اود **اوګوستین** (Augustinian) له افکارو یا اند یښنو څخه لاره چپول یا چي ځا ن بچول دی ، اما دغه چلند سره له دی ، نن ورځ هم حاکمیت لري .

لذا هغه څه چي مونږ په فرانسه کې د چینیا یی ګرایی په عنوان توصیف شوی وه یعنی یو ډول نا څرګند اویا مبهم شا با سی ورکونه چي په هغه کي **چین** دیو بت پرست ټولني په نوم یاده شوی وه ،مګربیاوروسته له هغه کلیسا د**چین** سره په مخا لفت کی د یهود یا نوپه را جذ بولو کی خپل زغم دلاسه ورکړ او **سورين** ( sorbonne یا یوپایی غوا ته ) ته جزا ورکړ- په کال (1725) کی غیر قانونی مسیحان چی د**چینی** مناسکو په عبادت مشغول وه غیرقانونی کیدل اودا ډیر په زړه پوري دي چي پوه شو او هغه داچي سینوفیلی(sinophile)فیلسوفیان او محکوم کړشوی یهودیان چي دپاپ لخوا وغندل شو تینګار یی وکړ چي «ریښتینی عقیدی »[ عیسوی] په پخواني چینیا یا نو اوبیا په ځا نګړي توګه کنفیوسویانو (confucianisim) متنونو کی تنظیم شوی وه



چینیا یی ګرایي (chinoiseries) یا چینی سریال اوپه لوخه کی د نقشی کارول




***له دیا رلسمې پیړی راهیسې ، سوربون نوم د ټولې نړی لپا ره د ا ستخباراتو او کلتور ، سا ینس او هنرونو ترټولو معتبره مرکزونو وه ، چې د پیړیو په اوږدو کې پراخه پیژندل شوی دی او د هغه په څیر راپورته شوی عکس جوړ کړی دی. تر نن ورځې د لوړوالی ژمنې سره. د سوربون تاریخ 8 پیړی کشف کړئ: منځنی پیړی ، دنن ورځی ، دنولسم پیړی ، شلمه پیړی او سوربن نن***

******

*داروپا لړلید دآسیا ، لیری ختیځ ددری ځواکمنو المانی پوهانو اوتیوریسینانو پواسطه سره دیو څه په اړه داندیښنی په لرلو آنخور یا تصور شوی وه . چې دغه پوهان هریو**کانت** (Kant) **هیردر**(Herder) اوتا ریخ ، جغرافیه پوه **شلیګل** (Schlegel) وه **کا نت** پخپله هم یو جغرافیه پوه شخص وه ، پس مونږ ویلی شو چې دا دری واړه غربی پوهان اودعلم خاوندان ، ختیځ پیژندونکو هم وه اودآسانه ده چې دغه دری واړه کسان **دبورګیس**(Borges) دلنډ داستان لیکونکی سره انځور کړو .*







**هیر در** **شلیګل** **بورګیس**

هسي ممکن څومره چي دوی د چین ، هند ، اود جا پا ن په اړه پوهاوی یا اطلاعات اومعلومات درلودل دهغو دهځو پوری تعلق نیول ،خو اما« **کا نت**» او **هیردرګاډ** «Herder God» له نوروتیولوپوها نواو فلیسوفا نو دنومورِی هیوادونو په هکله د ډیرو اطلاعا تو څښتنان وه ، اوهغه دا چي دوی دنړي دپرمختک ټول اړین خواووی د هغه د جزیاتو سره پلان کړي وه کوم چي دا مسله مونږ د نژاد د ستونزمن اودناځرګند مسلی د پوها وی په لور بیولي.

مسله دا سی چي یعنی د دین له انحصا رڅخه لیری یا جدا کید ل ، نسل یا نژاد ته په اشا ره د پخوانیو مفکورو په ارتباط واقعی فرضی پیژند نی ته را ستنید ل دی ، دبیلګي په بنه : **لیبنز**( Liebniz) او **ولتر** ( Voltair) **سینو فیل**(Sinophile = یعنی چینی پیژندونکی وه) وه اما **مونتسکوی** ( Montesquieu) او **د یدروت** (Diderot) **سینو فوبیا** ( Sinophobia = له چین څخه ډار) لرل . مګریو هم ددوی، نژادی فرهنګی تفاوتونه ونشوکړلی چي توضیح یا تشریح کړي، **مونتسکو** داقلیم (آب وهوا ) تیور یا نظر ته پراختیا ورکړ . اما دهغه دغه نظر یا تیوری نژادی مفهوم نه درلود یعنی چی هغه په نژادی اړخ باندی تماس ونه نیول بلکه دهغه دغه تیوری زیات قومی بڼه درلود .

دغه ناڅرګند او پیچلی یا موجوده نژادی تویپر پیژند نه دلوی فرانسوی سفر کونکي فلیسوف **فرانسوابرنیه** ( Francois Bernier ) په کال (1620) تر (1688) کی ترسره شو کوم چی هغه پوره (13) کاله په آسیا کی سفرونه ترسره کړی وه .اوهغه په کا ل ( 1671) کی یوکتاب د [هندوستان د لوی مغول پا دشاهی دکشمیر اود هند په ولایا تو کی ] په نوم نشرته وسپا رل . کوم چی بیا **اولتر** په توقه هغه د مغول برینه (Bernier) ونومول اوداځکه چي هغه یو ستوری شو کله چي شاهی یا سلطنتی محکمی ته خپل د سفر کیسی ویل ، نو هغه پخپل بوبل کتاب کی د [ د ځمکی نوی برخه کوم چي دا نسا نی نسلونو یا نژادونو مسکن ګرځید لي دي یعنی چی نسلونه هلته میشته شوی دي ] چي دغه کتاب یی په کال (1684) نشر ته وسپا رل دمغول ترپنځه پشته یا انسا نی نسلونه یا نژاد یوله بله سره بیل اوپه متما یز ډول توضیح اوتشریح کړ .

دغه ټول توپیرونه دپوستکي په رنګ پوری تعلق نیول نه دکورنی یا داقلیم (آب وهوا) پوری ، نو په دي ډول اروپایانو دمیکانیکي له نظره په سرکی ځاي پر ځای شوی وو یا چی هغو ته لمړی درجه مقام ورکړ شو ، په داسی حا ل کي چي نور ټول نژادونه « بد صورت یا کرغیرن» تلقی کیدل . وروسته له هغه

دبشریت ویش یا تقسیم تر پنځه انسانی نسل یا نژاد **دهیوم** (David Hum) له خوا غوره شو چي تل دپوستکي رنګ پر اساس ویش وه ، **هیوم** **انګلوساکسون** نړی ته اعلام وکړ : چي یواځی سپین پوست نژاد متمد ن دي ، نور پا تی تول نژادونه ( تیټ) اوناکسان دي ، کوم چی دغه مفکوره لاتراوسه پخپل ځای کی پا تي دي .

## دوه آسیا :

لمړی متفکرچي په حقیقت کي دزیرنسل تیور یی راوړاندي کړ،**هغه کانت** (Kant) وه ،چي د(1775) او (1785) کلونو ترمینځ پخپلو لیکونو کي **ډیوید مونګیلو** (David Mungello) پخپل یو ګنه کتاب کي د **چین** او ولوید یځ محاذ کی په کال له (1500) تر (1800) پوری استدلال کوي.

**کا نت** د( سپین نژاد) ته (غوره) ، تور نژاد ته د (تیټ یا د ناکس) په توګه درجه ورکوي ،( په هرصورت **کا نت** دغلامی یا د بردګي د مسلی غند نه نه کوی)، د مس نژاد ( مسی رنګ لرونکو) د «کمزور» په توګه او «زیرنژاد» دمینځګړی په توګه منی او ددوی ترمینځ توپیرونه دیوی تاریخي پروسي پوری اړین بولي، چی د(سپین نسل یا نژاد) سره پیل شوی یعنی چي (سپین پوست نژاد) یي خورا سوچه اویا خا لص اواصلی نسل منی اونور تول پاتي نسلونه یا نژادونه حرام زاده ګان دي.

**کا نت** ، آسیا یی هیوادونه د هیوادونو په نوم یوله بل څخه بیلوي ،یاداچي سره ویشي ، دهغه لپاره ختیځ آسیا **دتیبیت** ، **چین** ، او **جاپان** معنی لرل ، **هغه چین** په نسبتاً مثبتوشرایطو کي د«سپینی » او « زیړ» نسلونو یا دنژادونو دترکیب په بنه یادول .

د فیلسوف **هیردر**(Herder) لپا ره ډیر په زړه پوري وه کوم چي هغه « بین النهرین » دغربی تمدن لپاره زانګو اوکشمیر یی دعدن بڼ یا دنړی جنت وبولي. هغه دتاریخي تکامل نظریه په ولوید یځ کي یو حیرانونکی ضربتی راویښید نه وباله چي **ختیځ** یو ما شوم (baby) **مصر** یو کوچنی(infant) او **یونا ن** ځوان (youth) توصیف کید ل . **هیرد ر** ختیځ آسیا مشتمل له دغه ځایونو څخه لکه **تیبیت** ، **چین** ، **کوچینچیا** (cochinchina) ، **تونکین** (Tonkin) **لاوس** (Laos) **کوریا** (Korea) **ختیځ تیتری** (Eastern Tartary) او**جاپان** ګڼل کوم چي د **چین** تمد ن سره نژدیوالی لري .

**شلیګل** (Schlegel) لکه د کالیفورنیا د **شپیتوم** (60) لسیزی مخکښ **هیپی** په

ځیر وو، هغه د **سنسکرت** (Sanskrit) دژبی زده کړه سره لیوالتیا اودختیځ کلتورونو جدی زده کونکی وه هغه وویل : چي په ختیځ کي مونږ باید تر ټولو ، لوړ **روما نتیسیزم** «Romanticism» = [[په هنر او ادب کي یو حرکت دی چي د[ (اتلسم) پیړی په وروستیو کي رامینځته شوی ، په الها مي ،فرعي فعا لیت اود فرد لمړیتوب با ندی ټینګار کوي ...... تفصیل ددی قلم پواسطه ]] ولرو - هندوستا ن دهرڅه منبع او سرچینه وه ، د « ا نسا نی روح بشپړ تاریخ» ، هیڅ حیرانتیا نه ده چي دا پوهه د **اورینټا لیستو** (Orientalists) یا د **مستشرق** شنا سا نو دټول نسل لپاره **منتر** (mantra) ونشي- دا همدارنګه له آسیا څخه دلویدیځ په سرتاسر کي ددوه ګوني یادغبرګ لړلید یا دچشم آنداز پیل وه کوم چي نن ورځ هم دهغه الهام موجود دي .

نو په دی وجه زمونږ تصور له آسیا څخه تر اتلسم پیړي پوری دیو وچي په بنه کوم چي هغه وچه د مریتوب ، داستبد اد زانګو اود پدر سالاری د وچي په عنوان دآسیا دهغه لړلید یا چشم آنداز په تقا بل کي چي ګویا آ سیا د تمد نونو زانګو دي ځای لرل – اما طبعی الهام نوی شو ، آسیا د تمد نونو دمور په بنه ، یو هم دهغه دخپل ارزښتی سیستمونو په لرلو ، چی حتی دولویدیځ دمور په صفت داحترام وړ وګرځید اما دهغه سره په موازي توګه ، آ سیا د نا سا زګاری ، تحقیر اود نه په رسمیت پیژند نی ( یا له پامه غورځید نه ) سره مخا مخ شو. اوداځکه چي آسیا د خپل کارپه پیل کي ابدأ د غرب د لوړي سطحی پوري نه وه رسید لی .

## هغو شرقی استبداد کونکو :

دا موضوع مونږ دیو لوی سړی یا شخصیت سره مخه کوی اوهغه داچي **هیګل** (Hegel) د هغه وچي د مخکښو قبیلو په اړه په بشپړ بنی سره یولړ معلومات لرل اوهغه هم داچي (هیګل) دهغو قبیلو په مورد کي له **پکن** څخه په پرله پسی ډول راپورونه ترلاسه کول نو **هیګل** دلیری ختیځ په اړه څه نه لیکلی بلکه یوازی د ختیځ په شمول دختیځ آسیا اواساسأ **دچین** پر نړی باندی لیکنه اومطالعی کول . **هیګل** له دخپلو تیرو لیکوالو او پوهانو په شان هومره زیات پر مذهب باندي نه تمکیدل یاچي مذ هب ته چندان پام نه اړول بلکه **هیګل** دختیځ ددولت اود سیا ست په اړه خبری کول یعنی دخپل ملګری شلیګل (Schlegel) ددوستا نه افسا نو وینو څخه په خلاف ،ختیځ یی د تاریخ پیل ته درسید و په حا ل کي د طبیعت د دولت په توګه کتل یعنی د تور افریقا برعکس کوم چي **هیګل** هغه یو ناڅا پی دولت د یو عرفانی هیواد په دلد لزار(باتلاق) کی کتل .

**هیګل** د راکد (عاطل) اود نور نړۍ د تاریخی موجوده شخړو او اختلا فا تو د توضیح کلو لپاره کوم چي دولوید یځ دهیلو سره سمون خوړل ، دآسیا لویه وچه په دوه برخو سره وویشله چي په لاندي ډول پر هغه باندي تم کیږو :

**یوه برخه** یې چي **چین** اومنګولیا جوړه کړی وه : یعنی هغه بې سرپرسته قوي نړۍ ، چیرې چي هلته تضا دونه وده نه کوي ، چیرې چې د لوی امپراتورۍ بقا د نړۍ "بې اهمیته" ، ثا بت او تا ریخي شخصیت ته اشا ره کوي.

بله برخه یې وورډیرسین ("انتریر ایشیاء")[vorderasian or anterior asia] وه ، چې اوسنی مینځنې ختیځ او مرکزي آسیا یې له مصر څخه تر پارس پورې متحد کړل. چې دا دمخه تاریخي نړۍ ده.

دا دوه لوی سیمې هم فرعي وېشل شوي دي. نو په پای کې **د هیګل** آسیا تیس ویلټ (آسیایی نړۍ) په څلورو برخو ویشل شوی دی : **لومړی** ، د ژیړ او نیلي سیندونو ، د لوړې مرتبو ، چین او منګولیا **دوهم** ، د ګنګا او سیند وادۍ؛ **دریم** د اکسوس (د نن ورځې امور دریا) اوجکسارتس (نن سیریر دریا) ، د پارس تاتار د دجله او فرات سیند؛ او څلورم ، د نیل درې.

داد لیدوورډی چې دتا ریخ په فلسفه کې(1822-1830)**هیګل** د تاریخي تکامل کې د مینځګړي ډول په توګه هندوستان جلا کولو پای ته رسوي. نو مور په پای کې لرو،لکه څنګه چې **جین**-مارک مورا فرانسوی ادب پوه په« L'Extreme اکزاتیکة» تخیلی تا ریخ کی د **هیګل** فلسفه ، چې "توټه توټه ختیځ ، یعنی چې هند یې مثال دی ، او بې سیمه ختیځ ، په کې بند شوی **کیمرا** ، چې له هغې څخه لرې ختیځ انځور دی. "یادونه کوی .



هیګل

**هیګل** د ختیځ اولوید یځ ترمینځ داړیکې بیا نولو لپاره ، یو څو استعارې کاروي. له دی استعارو څخه یو ، خورا مشهور استعاره ، لمر ښیې: " چي د نړۍ تاریخ له ختیځ څخه تر لوید یځ پورې سفر کوي ، نو پدې توګه اروپا په بشپړ ډول د

تاریخ پای او آسیا پیل دی." مونږ تول پوهیږو چې د "تاریخ پای" تحریکات له کوم ځای څخه مونږ ته لار ښونه کړي دي .

بله استعاره هیردر(Herder) دی چي ختیځ د«تاریخ ځواني = youth »
دي مګر چین د کنفیسونستانو داصول داهمت له امله ځانګړي دی اوداځکه
چي مغوی دکورنی نقش ته زیات اهمیت ورکوي .

هیڅ هغه کوم شی چی پورته ور څخه یادونه وشو دآسیا یی له درک یا پوهي
څخه غیرجا نبدارنه دي له دوه ګونی پورته ذکرشوی استعاروڅخه یعنی د«لمر»
اود «بلوغ » څخه ګټه پورته کول نشی کولای چی ولوید یځ له خپل خودخواهی
(خودشیفتګی) چي ورروسته بیا د امریکی پواسطه سره دغه خودخواهی له اروپا
څخه د( استثنای توب ) په بڼه په میراث نیول شوی ، منصرف کړي .

**هیګل** فکر کاوه چې تاریخ باید د آزادی د ودې چوکاټ لاندې و ارزول شي. ښه
چین او هند تاریخي هیوادونه دي ، چي پکي ازادي شتون نلري ، پرته لدې چې د
بهرني نوښت لخوا راوړل شي .

اوداهغه څه دي چې د**مونتسکویو**لخوار امینځته شوی مشهور"**اورینټل استبداد**"
یا «شرقی استبداد» ترممکنه حده پوری ، حتی چي ځینې وختونه غربی ارزښت
لرونکي مداخلی حتمي ګرځولي یا چي هغه ته مشروعیت ورکړي دي نو مونږ باید
تمه ونه کړو چې داد لوید یځ ذهنیت هرڅه ژر ژر بد ل شي ، یا هم هیڅکله. کوم
چي که په ځانګړي توګه لکه څنګه چې د **چین** د لومړي نمبر هیواد په توګه بیرته
راځي. یا مقام ترلاسه کوي .

**-------------------------------- په درناوی «2020-05-18»**